مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۷/۲۹

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال
**(د افغانستان سیاسي تأریخي ګزیټر)**

## پینځم توک
## کندهار
## او
## د افغانستان سویل – مرکزي برخي

دوه سوه او پنځوسمه پرله پسي برخه

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**موهات:** ۵۷ – ۲۹ ، ۱۱ – ۶۶: لوړوالی: ۶۰۰۰ فیټه. دا د «ســــرلت» [1] په لړی کې یو کوتل دی، له لویدیځ شارود «شاهرود – ژ» [2] څخه د بنوراوک تر دښتي پوري لاري د همدي کوتل له لاري په بالا دشت باندي منتهی کیږي. دا کوتل د «سل واتو» [3] او د «ولي» [4] تر منځ واقع دی او تاج یا سر ئـــي د «سل واتو» د سویل – سویل لویدیځ په تقریباً ۲ مایلی کي او د «ایلتاز کاریز» [5] د کمپ د ســیمي له شــماله تقریباً ۶ مایله لیري موقعیت لري. د «ســـاپو» [6] ســـړک، له

1 - Sarlat range
2 - Sharod
3 - Salwatu
4 - Wali
5 - Iltaz Karez
6 - Sapu


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

«چیچازیو» [7] ښخه تر سـرلت پورې په ۲/۱ ۱۵ مایل کې او د بالادشـت د «پره / پاره» [8] په غرنۍ لړۍ کې د یوهٔ ټیټ کوتل لاره نیسي. دلته تر موهات پورې لاره له «پیر ګالي چوپي» [9] ښخه، د سرلت او «اشترلک» [10] په دو راهي کې جلا کیږي او د دښـتې بلې غاړې کې مخ پر لویدیځ ځي. له کوتله تقریباً ۳ مایله لیرې د سـرلت ټیټ غرونه پیل کیږي، ښـي لاس ته په لنډ واټن کې یا شـمال لور ته یوه غرنۍ ښوکه ده چې د «چاري تینګور ښارو» [11] په نوم یادیږي. کوتل ته ختل نرم او آسـانه دي او له تقریباً ۴ مایلو وروسته د کوتل تاج یا سر رسیږي، په دې خوا کې سـرلت تقریباً یوه غیر مهمه لړۍ ده. د غرهٔ تر تاج یا تر سر پورې لوړوالی « هماغسې چې تورن هنل، د بمبـئـې د پینځم بومي پلي ځواک افسر چې د ۱۸۸۱ز کال د مارچ په میاشت کې ئـې د کوتل کشفي مأموریت په ځیر تر سره کړی دی» ۶۰۰۰ فیټه دی. دا په شارود کې له چیچازیو ښخه ۱۹ یا ۲۰ او په ښـوراوک کې د زبر دسـت له کلي ښخه تقریباً ۲/۱ ۱۰ مایله لیرې دی. دا کوتل د «مزه» [12] په نوم یادیږي. له همدې ځایه تر یوې ټیټې غرنۍ ښوکې پورې د ۱۰۰ فیټو په اندازې کښته کیدل د ۱۵۰ یارډو په واټن د غرهٔ په ډډه کې دي چې یوهٔ نري یا کوچني اوب یللونکي «آب پخشـــان» یا مهمیز ته ورځي، او همدا مهمیز د موهات د اوبو د کښـــته کیدلو خوا له «ســـل واتو» ښخه جلا کوي. دا لاره د ۳۰۰ یارډو لپاره پر یوې ډیرې تنګې درې ورکوزیږي، لاره دې ځای کې ډیره کنډو کپر ده. له لږ واټن وروســته دا تنګه دره یوازې «په خپلې پورتنۍ برخې کې ۲ یا ۳ یارده کیږي» په کینې لاس کې یو بله تنګه دره ورســره یو ځای کیږي او له هغې وروســته ۵ یارډه پراخیږي. له ښو سـوو یارډو وروسـته یو بله تنګه دره له کینې لاس ښخه ورسـره یو ځای کیږي، د درو د یوځای کیدنې له دې ټکي ښخه د مایل د ثلث په واټن ها خوا دریمه دره ورسره یوځای کیږي. تر دې ځایه پورې لوړوالی ۵۲۰۰ فیټه دی چې په تقریباً ۲ مایلو کې ۸۰۰ فیټه سقوط ښیي. له همدې ځایه وروسته د موهات تنګه اوږده دره ماړپیچ لوری نیسي او پلن والی ئــې له ۱۵ یارډو ښخه تر ۲۰ یارډو پورې رسیږي. د غرهٔ له ښوکې ښخـــه په ۲/۱ ۳ مایل کې د ډیرو ښو اوبو دوې چینې دي چې د «چي توغ» [13] په نوم یادیږي. هغه اوبـهٔ چې د کینې لاس له اړخه راځي ۱۰ فیټه لوړې دي او دومره ډیرې اوبـهٔ دي چې په ساعت کې له ۴۰۰ تر ۵۰۰ تنو لپاره د ښښاک اوبـهٔ برابرولای سي. د درې په دواړو خواوو کې غرونه ټیټ دي چې له ۲۰۰ تر ۴۰۰ فیټو پورې لوړوالی ښیي. د نالې د بستر لوړوالی په «چي توغ» کې ۴۹۰۰ فیټه دی چې د دَرو د یو ځای کیدنې له ټکي ښخه په ۲/۱ ۱ مایل کې ۳۰۰ فیټه ټیټ والی یا سقوط ښـیي. له «چي توغ» کوز، ناله تقریباً ۳۰ یارده پلنه ده او تر ۵۰ یارډو پورې په توند ماړپیچ ډول کوزیږي. د اوبو له چینو یو مایل کوز «د غرهٔ له ســره ۲/۱ ۴ مایله» لیرې موهات کینې لور کې «سویل» ته تاویږی او ویل سوي چې د بهیدلو له ۲ مایلو مزل وروسته د ولي له درې سره یو ځای کیږي. د نالې د بسـتر لوړوالی چې په کوږوالي یا انحنا کې ۴۷۷۵ فیټه دی د «چي توغ» د اوبو له چینو ښخه په یوهٔ مایل واټن کې ۱۲۵ فیټه سـقوط ښـیي. دلته لاره له موهات ښخه وځي او مخ په لویدیځ لور په ښـي لاس ورخیږي. د نیم مایل په واټن کې د ۱۲۵ فیټو لوړوالی د خط الرأس تاج ته رســیږي چې د کوتل له آب پخشـــان ښخه ۵ مایله لیرې او له

---

7 - Chichazai
8 - Para range
9 - Pir Gali Chopai
10 - Ushtarlak
11 - Chari Tingor Tsaru
12 - Mazah
13 - Chitogh


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زبر دست څخه ۱/۲ ۵ مایله لیرې دی. دا د ځو خط الرأسونو په منځ کې لومړنی خط الرأس دی چې د «رانګي / رنګي» [14] په نوم یادیږي چې د «کسوري /قصوري» [15] نالې پر لور د کوزیدلو په شیوه اړخ باندې پای مومي. د کوزیدلو دا لاره کیدای سي د اوښانو لپاره چې سپک بارونه ولري ښه وي خو اوښان باید په ماریپچ ډول لاړ سي چې د عادي باروړونکو څارویو د تګ لپاره عملي لاره سي. دا لاره د کسوري مخ په پراخیدو نالې اړخ تر تقریباً ۱ مایل پورې نیسي او له هغه وروسته ښي لاس ته په توند ډول تاوییږي او یوې کوچنۍ درې ته ورځي او ځان یو ټیټ خط الرأس ته رسوي چې د «کټوري» [16] په نوم یادیږي. د نالې له یوې غاړې څخه بلې ته اوښتل له هغـــهٔ ټکي کښته ناشوني کیږي چې لاره له نالې څخه ځکه وځي چې یو ناڅاپي سقوط راځي او ویل سوي چې یو عمودي ګړنګ دی چې د پام وړ لوړوالی لري. د تنګې اوږدې درې سرته تقریباً نیږدې کیڼ لاس ته «سویل لور ته» یوه لاره بیله سوې او ویل سوي چې تر نوشکي پورې د «شیراني قافلې» [17] له لارې سره یو ځای کیږي؛ ښي لاس ته هم د غرهٔ پر سر یوه پل – لاره تللې ده. له یوې کوچنۍ راپورته کیدونکي لوړې ورهاخوا چې د «کټوري» په نوم یادیږي هلته په یوې نالې کې اوبـهٔ دي. دغه ځای د «سورو» [18] په نوم یادیږي. په دې پسې یوه بله لوړه راځي، کیڼ لاس ته په تاویدلو یو مخروطي کنډو غر راځي چې د «زري» په نوم یادیږي (لوړوالی ئـــې ۴۱۰۰ فیټه دی)، چې د ډبرینو کواړیو ،تخته سنګو او معمولي غرنیو طبقاتو له منځه یو زیږ ګټَ راوتلی دی. له څو غیر مهمو خط الرأســونو څخه په تیریدلو دا لاره د یوې کوچنۍ تنګې اوږدې درې له منځه په «تیري ناتو نالې» [19] کې هغـهٔ ټکي ته ورکوزیږي چې د «سین» [20] په نوم یادیږي او له څنګه ئــې کښته کیږي. دا ناله ۸۰ یارډه پلنه ده او ګرد چاپیره په ټیټو غونډیو یا پُشـتو کې محصوره ده چې لوړوالي ئـې ۳۰، ۵۰ او ۶۰ فیټه دی. له نیم مایل «د غرهٔ له تاج څخه ۱/۲ ۸ مایله لیرې» ناله د غرونو له وروستي مهمیز څخه راوځي او د یوې ډبرینې مخ په شیوه دښـتې باندې ورننوځي. د نالې کم عمقه بستر تر یوهٔ مایله په شمال لویدیځ لور کې تر هغه پر مخ ځي چې له کیڼ لاسه ووځي او دلته له مایل واټن وروسته د زبر دست کلي ته رسیږي، چې د کوتل د تاج له سره په ۱/۲ ۱۰ مایله او د پره یا پاره په غرنۍ کې کوتل څخه ۱/۲ ۱۴ مایله لیرې دی.

د موهات کوتل د سل واتو له کوتل سره ډیر ورته والی لري. د موهات د کوتل د تاج له سره د زبر دست تر کلي پورې تقریباً هماغومره واټن دی چې سل واتو ئــې د خپل تاج له سره تر «پوتله خان» [21] پورې لري. دواړه کوتلونه په عام ډول له یو بل سره موازي دي. له ښوراوک څخه په تللو د دې لپاره چې اساسي درې ته ورسیږئ باید له باندنیو خط الرأسونو څخه تیر سئ؛ چې له هغو وروسته پورته ختل د یوهٔ مایل لپاره ان تر څوکې پورې تدریجي دي ځکه چې کوچنۍ درې لا پسې تنګیږي، نرۍ کیږي او ډبرینې ګرځي. په دواړو کوتلونو کې اوبـــهٔ هم په عین واټن کې موندل کیږي. خو موهات د سل واتو په پرتلې ډیر تنګ دی خو له سره تر پایه سخت دی، معهذا په سل واتو کې یو ځایګی د نورو ځایونو په پرتلې

14 - Rangai
15 - Kasuri Nala
16 - Katuri
17 - Shirani kafila
18 - Suru
19 - Tirintao Nala
20 - Sin
21 - Putla Khan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ډیر بد دی. د موهات د کوتل اهمیت او ارزښت په دې کې دی چې د سل واتو او د ولي د سرکونو لپاره متبادل دی. ګټوره به دا وي چې دا کوتلونه سره ونښلول سي او یا دا چې کله چې د ځواک اساسي بدنه د ولي له کوتل څخه راکوزیږي نو د جناحي مدافعي لپاره کیدای سي په سل واتو کې ځای پر ځای سي چې د دریواړو کوتلونو په منځ ډیر آسانه ځای دی. د موهات د کوتل له لاري هیڅ ډول بار وړونکي کتارونه که امکان وي، نه باید ولیږل ســي. دا کوتل باید د اوښــانو د تګ لپاره غیر عملي وي؛ سره له دې چې د سیمي وګړي کله نا کله خپل اوښـان له دې لارې بیايي خو دا ټکی باید په پام کې ولرو چې د سیمي د وګړو څاروي تر هغو څارویو توپیر لري چې زموږ سرتیرو ته ورکړل سوي دي. څرګنده ده چې دا کوتل له غرنیو توپونو پرته د توپچي د ځواک د نورو وســایطو لپاره غیر عملي دی. د ولي د یا د ســل واتو د کوتلونو په پرتلې په موهات کې د غرنی پستي ونې ډیرې شنې سوي او پریمانه دي.

موهات ته په ختلو باید به یاد ولرو چې کله چې د درو انشعاب رامنځته کیږي باید کین لاس ونیول سي.

کله چې د موهات ناله له ولي سره یو ځای کیږي له سختو خط الرأسونو څخه اجتناب کیدای سي لکه «رجني» او پر ځای دې د ولي مدخل ونیول سوي «وګورئ: ولي»؛ خو داهم سویل لور ته عین واټن دي. «هنل»

**مُهین «معین» خان**: یا: بادر زي «بهادر زي»: ـــــ ۳۰ ، ـــــ ۶۶: دا د بنوراوک په «جنګلِ لوړه» [22] کي د ۶۰ او یا ۸۰ جونګړو یو کلی دی؛ دا لوړه سیمه د نالي تنګه دره ده چې د شګلنو غونډیو له منځه مارپیچه کیږي. ویل سوي چې دا له کیسر یا قیصر خان څخه څو مایله کوزه ده، او له جت پوتي څخه ۱۰ یا ۱۲ مایله لیرې ده چې ظاهراً ۳ مایله سویل کې ده. کیدای ســي ډیره کرهنه دې سیمي کې سـوې وي چې د لوړه د نالي په اوبو خړوبیږي. بادر زي «بهادر زي» د «زکو زیو بریڅانو» [23] یوه فرعي څانګه ده. «میتلند» اوسنی نقشي د بهادرزیو نوم په ۱۰ ـــ ۳۰، ۱ ـــ ۶۶ «ن» کي ښیي.

**مهمند**: ۳۵ ـــ ۳۱، ۵۴ ـــ ۶۵ «ن»: دا له کندهاره ۲/۱ ۱۰ مایله لیرې د کمپ په لومړی ســیمه کې یو کلی یا د کلیو یوه ډله ده چې د ترنک د درې له لارې تر قلات غلزایي پورې د سړک پر غاړې واقع کلي دي. دلته د جنوری په میاشت کې اوبـهٔ ډیرې او ښې دي چې د کاریز «او له ترنک څخه؟» دي او په ګاونډ کي ئـي ډیره کرهنه سوې ده خو د اوښ د څرلو لپاره ځایونه په قلت دي. د ۱۸۸۰ز کال د آګست د میاشتي په دیرشمي نیټي د جنرال سر اف. رابرتس ځواک همدلته دمه وکړه او د مهمند په شمال لویدیځ کي ئـــي په یوهٔ کنډواله کلي کي د کمپ لپاره ښـــهٔ ځای وموند، «مهمند: ښايي دا هماغه ځای وي چې مسي ئـــي د "کنهـــهٔ مهند" [24] په نوم یادوي» او هم ئـــي ښې او پریمانه اوبـــهٔ وموندلې چې اوبـــو ئـــي لږ خاورین خوند درلود ؛ دا د کاریز او د اوبو د یوهٔ بهیر اوبـهٔ وي. دلته له ګاونډیو کلیو څخه بهوسه په کافي اندازه لاس ته راتلای سي. د کندهار له بالاحصـار او رباط سـره ارتباط چې د قلات غلزایی د سـړک له لاري ۸ مایله واټن دی د هیلو ګرافی له لاري تینګ سو.

تورن بیســکو وايي چې دا کلی په قریه جاتو پورې اړه لري او یوه ژرنده او ۱۰۰ کورونه او تقریباً ۴۱۰ تنه وګړي لري چې مهمند، پوپلزي او غلزي دي او په ۱۸۷۹ زکال کې ئـي د پسونو څو لویې رمې درلودلې. «بیسکو، آی. بي. سي.»

**مؤمن**: دا له قلات غلزایي څخه ۴۵ مایله لیرې د غزني د سړک پر غاړې یو کلی دی. «بیلو»

22 - Jangal -i -Lora
23 - Zakozai Barechis
24 - Konah- i- Mohmand


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مورچه:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کشکِ نخود په ولسوالۍ کې یو کلی دی. «لیچ»

**مورچه:** ۴۱ ــ ۳۱، ۴۲ ــ ۶۵: دا د کندهار د شـــمال په تقریباً ۵ مایلۍ کې په یوې غرنی لړۍ کې یو کوتل دی چې د ارغنداب په درې منتهي کیږي. په دې کوتل باندې اوښان تللای سي خو په عام ډول د اوښانو قطارونه د بابا ولي د کوتل له لارې ځي. «آی. بي. سي. » اوسنی نقشې د دهراوډ په سویل کې یو کلی په ۲۹ ــ ۳۲، ۲۹ ــ ۶۵ «ن» کې ښیي.

* **مُرغلـِـــــن:** ۱۷ ــ ۳۱، ۱۵ ــ ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې له «کې له که» [25] څخه د رشید تر کلا پورې له اول الذکر څخه تقریباً ۹ مایله لیرې یو کلی دی.

**مرتضی:** ـــ ۳۲، ـــ ۶۵: دا د خاکریز په درې کې د درې په شمال ختیځې انتها کې یو کلی دی. دا کلی د غرونو د ختیځ مهمیز په خوا کې دی چې دا مهمیز هم د مرتضی په نوم یادیږي. «لینس»

**محمد امین:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا کویټې – کندهار د سړک پر غاړې یو ځای دی چې جنرال فییر ئـي له زاړهٔ چمن څخه ۲۶ مایله لیرې ښیي. کیدای سي دا د دمې نیولو هغه ځای وي چې د قلعـهٔ فتح الله په نوم ډیر شهرت لري. «آي. بي. سي.»

**محمد اسلم:** ــ۳۱، ــ ۶۶: دا د هغو کلیو د ډلې له منځه یو کلی دی چې د «کونچه زیو» په نوم یادیږي. دا کلی د ارغسان په ښی غاړه کې له امین کله څخه ۴ مایله پورته قلات غلزایي ته د تللي سړک په اوږدو کې واقع دی؛ دا کلی ۸۰ کورونه لري چې بارکزي په کې میشت دي او کرنیزې ځمکې ئـــي د ارغسان په اوبو خړوبیږي. «کلیفرډ، مسي» په دې نوم یو کلی د دهراوډ په ولسوالۍ کې د عبدالرحمن د شمال ختیځ په تقریباً ۱۶ مایلۍ کې په ۳۸ ــ ۳۲، ۳۴ ــ ۶۵ «ج» واقع دی.

**محمد حسن:** ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د کهندل کاریز ته نیږدې د ترنک د سیند په کیڼي غاړې کې د کندهار د ختیځ په تقریباً ۱۷ مایلۍ کې یو کلی دی. «ښیسکو» په دې نوم یو کلی د تخته پل د سویل په تقریباً ۷ مایلۍ کې په ۱۴ ــ ۳۱، ۵۸ ــ ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.

**محـمد حسن:** ـــ ۳۱ ، ـــ ۶۶: دا د ارغسان د سیند په ښی غاړه کې د وندوز او د «لاهر/ لهر» [26] د نالو تر منځ یو کلی دی.

**محمـــد حسني:** «ماماسني»: دا یوه براهوي قبیله ده چې په شارود او ښوراوک کې یو شمیر پوندي لري. په شارود کې د « هاروم» [27] د ځانګې څو کورنۍ د «سـیوي» [28] د نالې په تقریباً سـر کې چې د «غوغر کند» [29] په لویدیځ کې ده او هم د «مشالک» [30] د لمنې په اوږدو کې ژوند کوي.

په ښوراوک کې دوی ۲۰۰ تنه جنګیالي احضارولی سي. ماماسني «محــمد حسني په عام ډول د خلکو په ژبه په لنډیز د ماما سني په ډول تلفظ کیږي» په دغو سیمو کې ډیر آرامه او سوله پال وګړي دي خو د قبیلې اکثریت برخه چې ډیره لویه او سره له دې چې خوره وره ده، بیا ښـه منظمه نــــهٔ ده. د ماماسنیانو ډیري کسان په کندهار کې، د نوشکي په سویل لویدیځ کې ژوند کوي. «میتلند»

---

25 - Kelaka
26 - Lahar
27 - Harum
28 -Sewi Nala
29 - Ghoghar Kand
30 - Mashalak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**محـمد جان:** ـــ ۳۱، ـــ ۶۷: دا يو کلی دی چې د علي جان په نوم هم پيژندل کيږي او د قلات غلزايي د سويل ختيځ د هوتک د غرونو په يوې دړې کې موقعيت لري. د ۱۸۸۰ز کال د اپريل د مياشتې په پای کې دلته د ارغسان له درې څخه د راغلو درانيانو يوه لويه غونډه وسوه چې په برتانوي کاروانونو ئـې بريدونه وکړل او د قلات غلزايي او کندهار تر منځ ئـې اړيکه ئـې پريک کړه. په پای کې دوی خوارۀ وارۀ سول او د محـمد جان د سيمي «لوی ملک» محـمد اعظم باندي د ۲۰۰ روپيو جريمه په دې راغله چې د دۀ کلي په دې اله ګولي کې ونده اخيستې وه. «بيسکو». په دې نوم کلی د احمد شاه خيلو د لويديځ په تقريباً ۳ مايلی کې په ۹ ــ ۳۱، ۴۰ ــ ۶۷ «ج» کې موقعيت لري.

**محمد خان:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د لوړه په ښی غاړه کي يو کلی دی، دا کلی د «وچ بر غوبرک» د سرک پر غاړه له سر بلند څخه په تيريدلو لږ وروسته واقع دی. مسي وايي چې که په سربلند کې يو ځواک کمپ ووهي نو ښائـــي له دې ځايه هم د اړتيا وړ توکي ترلاسه سي. کيدای سي دا هماغه ځای وي چې کليفرډ ئـې د محمود خان په نوم يادوي. «مسي» په دې نوم يو کلی د اتمانزيو د سويل لويديځ په تقريباً ۵ مايلی کې په ۳۲ ــ ۳۱، ۲۱ ــ ۶۶ «ج» کې موقعيت لري.

**محمد موسی:** ــ ۳۱،ــ ۶۵۴: دا د کشکِ نخود يو کلی دی. «ليچ»

**محمد رضاء:** وګورئ: سمي زي «سميع زی» ۲ ــ ۳۱، ۳ ــ ۶۶ «ج» او ۵۷ ــ ۳۱، ۵۷ ــ ۶۵ «ج»

**محمد صديق:** وګورئ: تخته پل

**محمد صاحب زاده:** ۳۶ ــ ۳۱، ۴۹ ــ ۶۵: دا د بنورانداm او د «زاکر» [31] تر منځ د کندهار د ختيځ په ۵ مايلی کې يو کلی دی. «بيسکو»

**محمد شريف:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د کشوبي «خوړې اوبـۀ» په دره کې يو کلی دی. «کليفرډ»

**محـــمد زيي:** دا د بارکزيو يوه څانګه ده. په دې نوم کلي په ۵۶ ــ ۳۱، ۳۹ ــ ۶۶ «ن» او ۵۶ ــ ۳۱، ۳۴ ــ ۶۶ «ن» کې موقعيت لري.

**محي الدين:** وګورئ: مي دين

**مکرک:** «مقرک»: ۱۱ ــ ۳۲، ۳۳ ــ ۶۶ «ن»: بيسکو دا ځای د ارغنداب په دره کې د ميزان د ولسوالۍ په فرعي علاقو کې يوه فرعي علاقه يادوي. دا کلی د ميزان د ختيځ په تقريباً ۴ مايلی کې موقعيت لري.

**مقر:** ۳ ــ ۳۲، ۴۷ ــ ۶۵ «الف»: دا د خاکريز په دره کې د کليو يوه ډله ده.

**مليان:** ــ ۳۱، ــ ۶۶: مُليان يا دِۀ مليان د بيان زيو د شمال په ۱۱ مايلی کې د بلوڅ د سرحد پر سر يو کلی دی. دلته اوبـۀ، سون توکي او علوفه باب پريمانه دي. « بومي معلومات، ۱۸۸۷»

* **مـــُـــلکزي:** ۵۹ ــ ۳۱، ۲۷ ــ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د «شومولزيو» [32] (شملزيو ــ ژ) د سړک پر غاړه د شينکی د ختيځ په تقريباً ۴ مايلی کې يو کلی دی.

**ملا عبدالله:** ۳۰ ــ ۳۱، ۵۱ ــ ۶۵: دا د کندهار د سويل ختيځ په ۸ مايلی کې يو کلی دی. «بيسکو»

**ملا انور:** ۱۲ ــ ۳۲، ۳۵ ــ ۶۷ «ج»: دا د توبه ــ غزني د سـرک پر غاړي د دمي نيولو ځای دی چې د «جالو» د کوتل د شمال په ۸ مايلی کې واقع دی. «ملا»

---

[31] - Zakird
[32] - Shomulzai


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

**ملا انور**: ــ ۳۱، ــ ۶۶: دا د کشوبي «خوړي اوبـۀ» په درې کې د ګاټي د شمال – شمال ختيځ په تقريباً ۱۱ مايلی کې يو کلی دی چې ۷ کورونه لري. «کليفرډ»

* **ملا اشرف**: ۲۶ – ۳۱، ۲۷ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ډوری د سيند پر غاړه، او د ترنک له سيند سره د يو ځای کيدني د لويديځ په تقريباً ۵ مايلی کې يو کلی دی.

**ملا عظيم**: ــ ۳۱، ــ ۶۵: دا د ارغنداب پر غاړه، بندِ تيمور ته نيږدې يو کلی دی چې استوګن وګړي ئـې اسحق زي دي؛ اسحق زي د سربڼ افغانانو «پښتنو –ژ » له پښته دي «سربڼ يو افغان "پښتون – ژ" ستر روحاني وو او اسحق زي د هغـۀ له پښـته دي»؛ له همدې کبله ده چې اسـحق زي خپلې ځمکې له اجارې پرته سـاتي او له هغو امتيازاتو او معافيتونو څخه ګټه اخلي چې روحاني طبقاتو ته ځانګړې سوي دي. «بيلو»

* **ملا عزيز کلی**: ۵۹ – ۲۹، ۵۰ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولايت کې د ښـوراوک په ولسـوالی کې د مندوزيو د سـويل لويديځ په تقريباً ۱۲ مايلی کې يو کلی دی.

* **ملا باران**: ۴۹ – ۳۱، ۴۴ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولايت کې د «خشـک» د سـيند پر غاړه د جلدک د سـويل په تقريباً ۱۵ مايلی کې يو کلی دی. [دلته په انګليسي متن په تت رنګ د ۱ او ۵ تر منځ د اعشارئـــې ټکی ښکاري چې ښايي ۱.۵ مايله وي – ژ]

**ملا ديدن**: [33]: وګورئ: تازي: *دا د شاه جوی د سويل په ۱۰ مايلی کې په ۲۳ – ۳۲، ۲۸ – ۶۷ «ج» کې يو کلی دی.*

**ملا دوست محـمد**: ۹ – ۳۱، ۲۲ – ۶۶ «ج»: دا د کشوبي (صحيح بڼه ئـې خوړي اوبــۀ ده – ژ) په کيڼې خوا کې يو کلی دی؛ له سـربلند څخه تر ډبری پورې لاره د دې کلي له څنګه چې له ډبری څخه تقريباً ۸ مايله ليرې دی تيريږي. «مسـي» په دې نوم بل کلی په ۲۶ – ۳۱، ۳۰ – ۶۵ «الف» کې واقع دی.

**ملا فيضو**: ۳۸ – ۳۱، ۵۰ – ۶۵: دا ملنګ ته نيږدې د کندهار د ختيځ په ۸ مايلی کې يو کلی دی. «بيسکو»

**ملا جلندر**: ــــــ ۳۱، ــــــ ۶۷: دا د بلوڅ سرحد ته نيږدې د «تنده نالي» [34] پر غاړې د «پسين» [35] د قبيلې يو کلی دی. په «۱۸۹۴» کې دلته ۶ له ختو جوړې جونګړې او يو شـــمير کيږدۍ وې. دلته په نيږدې شـــاو خواوو کې د پام وړ کرهنه سوې ده. «بن ۱۸۹۴»

**ملا قيصار**: «قيصـر»: ۳۶ – ۳۲، ۳۲ – ۶۷ «ج»: دا د شـاه جوی د شمال لويديځ په تقريباً ۸ مايلی کې د توخي غلزيو يو کوچنی کلی دی. «آی. بي. سي. ۱۸۸۰»

**ملا خيل**: ۳۱ – ۳۱ ، ۳۰ – ۶۷ «ن»: دا د رشـيد له کلا څخه ۲ مايله کوز، د کند پر ښـی غاړه د توخي غلزيو يو کوچنی کلی دی.

**ملا ميان زيارت**: دا له غزني څخه د «کـــنـــدر»[36] تر درې پورې د سرک پر غاړې د دمې نيولو ځای دی. دلته د اوبو يوه چينه او د غلزيو څو کيږدۍ سته. «لمسدن»

---

[33] - MULLA DIDAN: ددغۀ نوم مخې ته ئـې په عربي الفبا «ملا ديدن» ليکلي دي - ژ

[34] - Tanda Nala

[35] - Psein

[36] - Kundar


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ملا مرده:** ۴۱ ـــ ۳۱، ۲۶ ـــ ۶۵: دا له ارغنداب ښخه د خاکریز تر درې پورې یو کوتل دی چې د خاکریز د غرونو له عامي کرښې سره موازي ځغلي، دا لاره د میر هزار کلي ته نیږدې د «تنګلي» [37] د کوتل له مدخل ښخه په تقریباً ۱ ۲/۱ مایل واټن کې خپله ځانګه بیلوي؛ دا کوتل د «تنګلي» کوتل د «پیشـي» [38] له کوتل سـره د «خاکي کاریز کلي» ته نیږدې له یو بل سره نښلوي. هغه لاره چې د یوې تنګې وچې نالي د بستر په اوږدو تیریږي په دواړو خواوو کې له ستوغو، لوړو او له داسي ځایونو ښخه تیریږي چې لاسرسی ورته تقریباً ناشونی دی. دا سړک د آس سپرو او بار وړونکو کچرو د تګ لپاره عملي دی خو د باروړونکو د تګ لپاره نـهٔ دی. اوږد والی ئـې ۷ مایله دی. «لیسن، هاروي»

نور بیا

## ملا مشکي: دا د نورزیو یو...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

37 - Tangli
38 - Pishi



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ